# جوانان از معیینیت جوانان بی خبر اند

**گزارشگر : عبدالاکبر**

غفار یک فروشنده جاکت های لیلامی درکنار وزارت مخابرات مانند صدها هزار جوان دیگر کشور از دولت شکایت دارد که برای جوانان "هیچ کاری نکرده است". وی نام اداره معیینیت جوانان را هرگز نشینده و هیچ نمی داند که در اداره دولت کنونی چنین نهادی هم وجود دارد.

غفار متعلم صنف یازدهم لیسه حبیبه در شهر کابل است، می خواهد زنده گی خوب و آرام داشته باشد؛ اما به گفته وی این جنگ و شرایط نا امن این امید را از جوانان گرفته است.

وی آرزو دارد داکتر شود. وی صبح ها مکتب می رود، بعد از ظهر هم دست فروشی می کند و "به سختی زنده گی" اش را می گذراند.

محمد امان سعیدی محصل پوهنحی روانشناسی پوهنتون کابل هم یکی از جوانانی است که از دولت شکایت دارد. وی عمده ترین مشکل جوانان را مشکل اقتصادی می داند. وی گفت جوانان فقیر هستند و نمی توانند به علت فقر ازدواج کنند. وی هم مانند غفار، نام



معیینیت جوانان را نشنیده و اعتقاد ندارد که این دولت برای جوان کار مفیدی انجام دهد.

سید نورالله محصل همان پوهنحی مشکل جوانان را در ساختار جامعه می داند. به قول وی در جامعه ما "بزرگ سالاری" حاکم است. وی گفت برای جوانان در هیچ عرصه ای چندان نقشی داده نشده است. وی افزود: "به این خاطر جوانان در انزوا و سرخورده گی به سر می برند.""

۶۸ در صد نفوس کشور پایین تر از سن ۲۵ ساله گی قرار دارد، بدینگونه افغانستان از لحاظ بشری یک کشور جوان به شمار می رود. در چوکات وزارت اطلاعات و فرهنگ کشور یک معیینیت به نام "معیینیت جوانان" وجود دارد که برای جوانان کشور مساعدت هایی را فراهم می کند.

داکتر عبدالوود افغان رییس حمایت های حقوقی این معیینیت می گوید که اکثر جوانان از فعالیت های معیینیت جوانان با خبر اند و با آن نهاد در ارتباط قرار دارند. وی گفت که حتا مسؤولان آن نهاد در محلات تجمع جوانان مراجعه می کنند تا از مشکلات جوانان با خبر شوند و با آنها همکاری کنند.

وی در باره آن نهاد اینگونه معلومات بیشتر ارائه کرد: "معیینیت جوانان در سال ۱۳۸۵ در چوکات وزارت اطلاعات و فرهنگ فعالیت خود را آغاز کرد. این معیینیت در ۲۷ ولایت کشور دفاتر رسمی دارد و در ۲۰ ولایت مراکز آموزشی برای جوانان داریم.""

آقای افغان گفت معیینیت جوانان در سراسر کشور برای جوانان همکاری می کند. وی برخی از همکاری های آن نهاد را آموزش حرفوی جوانان بی سواد عنوان کرد که این همکاری و آموزش حرفوی برای کاریابی جوانان مفید است. وی گفت که در مراکز آموزشی در ولایات برای جوانان زبان انگلیسی و کمپیوتر آموزش داده می شود.

آقای افغان می گوید هشت وزارتخانه دولت مانند وزارت های تحصیلات عالی، معارف، عدلیه، صحت عامه، کار و امور اجتماعی، وزارت امور زنان و هفت نهاد مربوط به سازمان ملل با معیینیت جوانان همکاری دارند و این معیینیت مشکلات جوانان را به وزارت خانه هایی که با آن معیینیت همکار هستند ارجاع می کند تا آن وزارت خانه ها در حصه خود به جوانان همکاری کنند.

وی گفت معیینیت جوانان حدود ۲۰۰۰ جوان را از طریق امتحان کانکور به مؤسسات تحصیلات عالی کشور معرفی کرده است. این جوانان یا به صورت رایگان و یا تا ۷۰ در صد تخفیف در حق التحصیل در این مؤسسات مصروف آموزش اند.

آقای افغان گفت که آن نهاد به بخش سپورت هم توجه داشته است و برای ورزشکاران و تیم های ورزشی جوان کشور از سکتور خصوصی و سرمایه داران کشور "سپانسرشب" گرفته است.

رییس حمایت های حقوقی معیینیت جوانان گفت که جامعه جهانی توجه جدی به مسأله جوانان در افغانستان نکرده است. وی گفت آن نهاد فقط با امکانات دولتی به جوانان همکاری می کند.


آقای افغان معتقد است که اگر جامعه جهانی به صورت درست با جوانان افغانستان همکاری کند "مشکل امنیتی هم تا حدودی حل می شود؛ چون در طرف مخالفین هم نیروی محرک را جوانان تشکیل می دهند.""

رییس حمایت های حقوقی معیینیت جوانان کشور معتقد است که جوانان کشور هم باید خود شان به یاری خود بشتابند و "زیاد منتظر همکاری نباشند". وی از جوانان خواست تا خود در تصمیم گیری های کشور شرکت کنند و جرأت کنند که در رهبری امور مختلف کشور سهیم شوند.

## د ټاکنو کمېسيون:

# هيڅ يو نوماند نشي کولای چې ټاکنې تحريم کړي







ليکونکی: عبيدي

وروسته له هغه چې د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټاکنو ته نوماند ډاکتر عبدالله عبدالله ددوهم پړاو په ټاکنو کې د ګډون په لپاره يو لړ شرطونه وړاندې کړل د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون خبر ورکړ چې د ددوهم پړاو ټاکنې به د ټاکل شوي مهال ويش سره سم د لړم په ١٦ نېټه ددوو سيالو نوماندانو حامد کرزي او عبدالله عبدالله تر منځ تر سره شي.

د ټاکنو د کمېسيون د دارالانشا مشر داود علي نجفي ويلي دي چې دولسمشرۍ له ټاکنو نه د کانديدانو د انصراف وخت ختم شوی او اوس د قانون له مخې هېڅ يو کانديد نشي کولای چې د ولسمشرۍ دويم پړاو ټاکنې تحريم کړي .

له دې ، وړاندې د ولسمشرۍ د دوهم پړاو ټاکنو يوه نوماند ښاغلي عبدالله د دغو ټاکنو لپاره خپل ځينې شرطونه وړاندې کړي وو او ويلي وو چې د دغو شرطونو په پام کې نيول د ټاکنو له شفافيت سره مرسته کولای شي.

په دغو شرطونو کې د دريو وزيرانو د دندو ځنډول او د ټاکنو کميسيون د مشر له دندې ګوښه کول هم شامل دي .

د ولسمشرۍ نوماند ډاکتر عبدالله عبدالله د ټاکنيز کمپاين په دريمه ورځ په يوه خبري غونډه کې وويل په لومړي پړاو ټاکنو کې له دولتي امکاناتو د يو ځانګړي نوماند په ګټه کار اخيستل شوی، په ځينې سيمو کې امنيتي ستونزې وې او په خبره يې د ټاکنو کميسيون هم بې پرې نه و .

ښاغلی عبدالله ويلي دي که څه هم ټاکنو ته لږ وخت پاتې دی او کېدای شي ټول بدلونونه ستونزمن وي، خو په خبره يې د يو لړ شرطونه منل به د ټاکنو بهير له رڼښت سره مرسته وکړي .

ښاغلي عبدالله له خپل لوري شاوخوا لس شرطونه وړاندې کړل چې د يو شمېر وزيرانو د دندو ځنډول او په ځينې نورو وزارتونو کې د ده له غاړې د څارونکو درلودل يې په لومړيو هغو کې راځي

نوموړي ويلي دي : "د دريو وزيرانو او يو عمومي ريس د دندو ځنډول، چې د کورنيو چارو، معارف او سرحدونو وزيران او د سيمه ييزو ارګانونو مشر دی . د دغو وزراتونو په اجراتو کې زموږ د څارونکي اغيزناک حضور په ځانګړي ډول په هغو اجراتو کې چې له ټاکنو سره تړاو ولري . په دريو د ماليې، اطلاعاتو او فرهنګ او حج او اوقافو وزارتو نو کې زموږ د څارونکي اغېزناک حضور. چې د دغو وزارتونو له منابع او امکاناتو نه د يو ځانګړي نوماند په ګټه کار وانه خيستل شي ."

ښاغلي عبدالله زياته کړه چې د ټاکنو کميسيون مشر عزيزالله لودين هم بايد په سملاسي توګه له دندې ليرې کړل شي .

همدارنګه د ټاکنو کمېسيون په دارالانشاـ کې د صلاحيت لرونکي استازي درلودل او په نا امنو سيمو کې چې ټاکنې هلته ناشونی دي د رای ورکولو مرکزونو تړل، نور هغه شرطونه و چې ښاغلي عبدالله يې د پلي کېدو غوښتنه يې کړې ده .

نوموړي په ډاګه کړه چې د ملګرو ملتونو د استازي دفتر يونما له لارې به دغه شرطونه حکومت ته ورسوي او تر پنځو راتلونکو ورځو به د هغې ځواب ته سترګې په لار وي .

په عين حال کې د يونما دفتر هم له دواړو مخکښو نوماندانو حامد کرزي او عبدالله عبدالله نه غوښتي چې د انتخاباتو په دوهم پړاو کې هم د ټاکنو کميسيون پرېکړې ته غاړه کېږدي .

همدارنګه حامد کرزی د ډاکتر عبدالله عبدالله د غوښتنو په ردولو سره ويلي دي چې په اوسني شرايطو کې ددغو چارواکو لرې کيدل د افغانستان په ګټه نه دی .

په عين حال کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون چارواکو ويلي دي چې د ولسمشرۍ د نوماندانو د انصراف وخت پوره شوی او هيڅ يو نوماند نشي کولای له نوماندۍ څخه تير شي.

د افغانستان د ټاکنو د کمېسيون د دارالانشا مشر داوود علي نجفي بي بي سي ته ويلي دي چې د ټاکنو د دويم پړاو لپاره د رايو پاڼې چاپ شوي او که چېرې د دغو ټاکنو يو نوماند هم په ټاکنو کې برخه وا نه خلي بيا به هم د ده په وينا ټاکنې تر سره شي او د هغه په ګټه کارول شوې رايې به له شميرلو وروسته اعلان شي.

نوموړي ويلي دي "د ټاکنو کمېسيون د هغو کسانو لپاره چې انصراف کوي يو ټاکلی وخت لري چې اوس هغه وخت تير شوی دی. په دې مانا چې کانديدان اوس نشي کولای انصراف وکړي. کله چې کانديد نشي کولای انصراف وکړي نو د هغه نوم د رايو په پاڼې کې شته يعني دوه کانديدان دي. موږ ټاکنې تر سره کوو او هغه رايې چې کانديدانوته اچول کيږي شميرل کيږي او وروسته بيا اعلانيږي .

ښاغلي نجفي د داکتر عبدالله عبدالله د شرطونو په هکله زياته کړې ده : " په دې اړه د ټاکنو د کمېسيون او د نړيوالې ټولنې ترمنځ هيڅ خبرې اترې نه دي شوي. اصلاً هېڅ دغه موضوع نه ده مطرح شوې خو هغه يو شرط چې ډاکټر صاحب عبدالله په خپلو شرطونو کې مطرح کړی و او هغه نبغ په نبغه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون پورې اړه درلود هغه په خپله د ډاکتر عبدالله په نامه د شلو زرو کارتونو يا اعتبار پاڼو چاپول و چې موږ هغه شرط منلی او دغه کارتونه مو چاپ کړي او ورته به يې وسپارو. خو تر کومه چې د دغه کمېسيون د رهبرۍ د بدلون خبره کيږي نو دا د قانوني سرچينو له لارې بايد تر سره شي او دا د ولسمشر له صلاحيتونو ده چې هغوی کولای شي په دې اړه پريکړه وکړي" .

که څه هم ډاکتر عبدالله عبدالله تر دې مهاله نه دي ويلي چې په ټاکنو کې ګډون نه کوي ،خو يو شمير کتوونکي وايي چې د ډاکتر عبدالله د ټاکنيز کمپيين د خبرو څخه دا په ډاګه کيږي ،چې نوموړی په ټاکنو کې ګډون نه کوي .

خو دا په داسې حال کې ده چې ښاغلی نجفي بيا وايي چې د قانون له مخې د ټاکنو د دوهم پړاو د تحريمولو حق هيڅ يو نوماند نه لري او دوی ته پکاره ده چې په دغو ټاکنو کې ګډون وکړي.

په عين حال کې د چارو يو شمير کارپوهان وايي چې د قانون له ارخه هيڅ يو کانديد نشي کولای په ټاکنو کې د ګډون په موخه شرطونه وړاندې کړي .

د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي استاد نصرالله استانګزی وايی د حل لار دا نه ده چې د يوشمير حکومتي چارواکي او يا د ټاکنو د خپلواک کميسيون مشر دې له دندې ګوښه شي ،بلکه د حل لاره دا ده چې په دغه شرطونه د ادعا په ډول وړاندې شي او ځانګړې محکمه په دې پريکړه وکړي .

نوموړي همدارنګه وويل د هيواد په اساسي قانون کې په ډاګه ويل شوي دي چې که چيرې ټاکنې دوهم پړاو ته وځندول شي دوه مخکښ نوماندان به په دوهم پړاو کې سره سيالي وکړي .

نوموړي د ټاکنو د خپلواک کميسيون هغه څرګندونې چې ويلی يې دي هيڅ يو نوماند نشي کولای په دوهم پړاو کې د خپل نوماندۍ څخه انصراف وکړي نا قانونه وبلل او ويې ويل چې هر نوماند داحق لري چې د خپلې نوماندۍ څخه انصراف وکړي او په ټاکنو کې ګډون ونکړي.